# د فوکلور پوهنې سیمپوزیم

(د مقالو مجموعه)

دویم چاپ له بیاکتنې

او زیاتونو سره

د سرمحقق زلمي هیوادمل په زیار

د فوکلور پوهنې سیمپوزیم (د مقالو مجموعه)

د سرمحقق زلمي هیوادمل په زیار

۱۳۹۹هـ.ش

# Symposium of Folklore Studies

Prepared by: Professor Zalmai Hewadmal

2020

ISBN 978-9936-645-81-3

9 789936 645813

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو  ژبې او ادبیاتو انستیتوت


# د فوکلور پوهنې سیمپوزیم

## (د مقالو مجموعه)

دویم چاپ له بیاکتنې او زیاتونو سره


د سرمحقق زلمي هېوادمل په زیار



۱۳۹۹هـ. ش

## د کتاب پېژندنه:

**د کتاب نوم:** د فوکلور پوهنې سیمپوزیم

**مدون او سموونکی:** سرمحقق زلمی هېوادمل

**مهتمم:** محمد اصف احمدزی

**کمپوزر:** شعیب شېرزی

**لومړی چاپ:** ۱۳٦۵هـ. ش

**دویم چاپ:** ۱۳۹۹هـ. ش / ۲۰۲۰م

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٤۵-۸۱-۳


د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

## د مطالبو فهرست

| مضمون | لیکوال | مخ |
|---|---|---|


د دویم چاپ سریزه ........................................................................ أ
سیمپوزیم فوکلورشناسی / زلمی هېوادمل............................................. ۱
د سیمپوزیم اساسي وینا / کاندید اکاډمیسین الهام ................................۷
تجلی فرهنگ عامیانه در شعر / اکادمیسین عبدالاحمد جاوید.......... ۱۳
فوکلور باید د تیوري په رڼا کې و څېړل شي / کاندید اکاډمیسین روهي.........۳۳
آیا د کلیوالی ژوند ټولې پدیدې په فوکلور کې مطالعه کیږی؟ / محمد ابراهیم عطایي .................................................................. ....................۴۱
دربارهٔ کلیات فوکلور تاجیک/ پروفیسور شیر محمدوف ..............................۵۵
د فوکلور ملیت او بین المللیت / سرمحقق دوست شینواری .............۶۹
د فوکلور په برخه کې څو خبرې / څېړنمل ژواک ............................۸۱
پښتو فوکلور او په شوروي اتحاد کې یې ژوره مطالعه / اسلانوف / معتمد ....۸۷
پښتو شفاهی سندرې / څېړندوی عبدالله بختانی خدمتگار .........۱۰۳
برخی از مسایل گرد آوری ادب شفاهی دری / اسدالله شعور ....... ۱۲۳
د پښتنو فوکلور او د پښتو شفاهي ادبیاتو د تصنیف ربړې / سرمحقق زلمی هېوادمل ...................................................................... ۱۳۵
نوملیک / سرمحقق زلمی هېوادمل ........................................... ۱۴۷

# د دويم چاپ سريزه

د شپېتمو کلونو په جريان کې د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز ځينې عمده پروژې تر کار لاندې نيولې وې چې يوه په کې زموږ د ژبو د شفاهي ادبياتو د ټولولو، تصنيف او په اکاډميک ډول چاپ ته آماده کولو پروژه وه.

زه هغه وخت د يوې مودې لپاره د پښتو شفاهي ادبياتو د ديپارتمنت آمر وم، زما رهنما استاد او هغه وخت د ژبو او ادبياتو مرکز مشر کانديد اکاډميسين پوهاند دوکتور محمد رحيم الهام راته وويل: "د دې پروژې د عملي کولو لپاره بايد موږ تر هر څه دمخه د ديپارتمنت غړيو ته د شفاهي ادبياتو د ټولولو اکاډميکې لارې چارې وښايو. زما په پوهه د دغه هدف د تحقق لپاره بايد يو سيمپوزيم جوړکړو". له دې هدايت سره سم موږ کار پيل کړ، دا خبرې ما يو څه د دې مجموعی د اول چاپ په مقدمه کې راوړې دي.

د سيمپوزيم عنوان مو د شفاهي ادبياتو پر ځای څه عام کړ او د فوکلور پوهنې او يا فوکلور شناسۍ نوم مو ورته انتخاب کړ او دا په دې دليل چې زموږ په فرهنګي چاپېر کې له هغه دمه تر اوسه د فوکلور حدود څرګند نه دي. هر څوک له فوکلوره يو تعبير لري چې د دغو تعبيراتو ځينې د فوکلور له اکاډميکو معيارونو سره اړخ نه لګوي.

هدف مو دا و چې په دې سيمپوزيم کې به د خلکو د فرهنګ هغه برخې چې د کلمې په واقعي معنا فوکلور بلل کېږی. هغه به د کليوالی ژوند له هغو پديدو ببلې کړو چې له اتنولوجی، اتنوګرافی او يا د نورو علومو

له ابتدايي بڼو پورې نښلي. نور به نو، د فوکلور پوهنې سيمپوزيم د شفاهي ادبياتو د ټولولو او تصنيف پر محور را څرخي.

د سيمپوزيم د جوړېدو په شپو ورځو کې د تاجيکستان د علومو اکاډمۍ غړی پروفيسور بهرام شير محمدوف هم کابل ته راغلی و او زموږ د اکامۍ مېلمه و. ده زموږ د پښتو شفاهي ادبياتو د ديپارتمنت له غړيو سره ناستې او مشورې درلودې. ده په خپل دغه سفر کې د فوکلور د آرشيف موضوع مطرح کړه او په يو ځانګړي آرشيف کې يې د ټولو شويو فوکلوري موادو د خوندي کولو پر لارو چارو، د فوکلوري موادو د آرشيف پر ضرورتونو خبرې او بحثونه کول.

د ژبو او ادبياتو مرکز، پروفيسور بهرام شيرمحمدوف ته د فوکلور پوهنې په جوړېدونکي سيمپوزيم کې د ګډون بلنه ورکړه او د سيمپوزيم د منشي په توګه مې ترې وغوښتل چې د دې سيمپوزيم د علمي غونډو لپاره يوه مقاله وليکي. استاد زما غوښتنه ومنله او په تاجيکستان کې د فوکلوري توکيو د ټولولو لارې چارې هم توضيح کړې او د فوکلوري موادو پر آرشيف يې هم يادونې درلودې.

پروفيسور شيرمحمدوف دا مشوره په تکرار ورکوله چې د افغانستان د علومو اکاډمي بايد د فوکلوري موادو د خوندي کولو آرشيف ولري. خو اکاډمي هغه وخت ونشول کولای چې د فوکلور ځانګې ته آرشيف جوړ کاندي.

څو کاله دمخه اکاډميسين سليمان لايق هڅه وکړه چې د پښتو – دري او زموږ د نورو ژبو د ټولو شويو فوکلوري توکيو د خوندي کولو لپاره په اکاډمي کې د فوکلور آرشيف جوړ کړي، يو څه کارونه يې هم وکړل، خو ساحې ته د فوکلور ټولوونکيو د تګ مشکلاتو دا هڅه نتيجې ته ونه رسوله.

د سيمپوزيم اصلي اهدافو (د فوکلور ټولول، تصنيف او څېړل) ته په پاملرنه پوهانو ته د مقالو بلنه ورکړل شوه. مقالې وليکل شوې او مجموعه د گستتنر له لیارې خپره شوه، خو دا چې دا مقالې څومره د سيمپوزيم له اهدافو سره سمې دي او پردې سيمپوزيم څه نتايج مرتب شول؟

په دې باب زما رايه داده: د دې مجموعې ځينې مقالې ټولې او د ځينو بعضې خبرې د سيمپوزيم له اهدافو سره برابرې نه دي، خو دا چې څه نتايج پر مرتب شول، د هغه په باب بايد ووايم چې:

تر سيمپوزيم وروسته استاد الهام موږ ته وويل چې د فوکلور د څېړلو او ټولولو لپاره بايد موږ تر ټولو دمخه پر فوکلور د شوي کار او د ټولې شوې ذخيرې جاج واخلو. د دې هدف د تحقق لپاره بايد د فوکلور او شفاهي ادبياتو څانگه پر پښتو فوکلور د شوي کار يو کتابښود تيار کاندي چې دوې برخې به ولري، يوه د ټولې شوې فوکلوري ذخيرې معرفي او بله هم پر فوکلور د شوي کار. دا کار به هم فوکلور ټولوونکيو او هم فوکلور څېړونکيو ته د دې زمينې مساعدې کړي چې د خپلو کارونو ليدلوري وټاکي او پدې توگه د مکرراتو مخنيوی وشي. پدې ساحه کې يوازې ښاغلی نصرالله ناصر خپل کار بشپړ کړ، دا کار د لوړ هدف د ځينو برخو له تحقق سره مرسته کوي.

همدا مهال له موضوع سره مرتبط يو بل ډېر مهم کار چې د ژبو او ادبياتو مرکز وړاندې کړ، هغه د استاد روهي (د فوکلور پېژندنه) نومي کتاب چاپ و چې د فوکلور ټولونې او څېړنې له لارو چارو سربېره يې زموږ د فوکلور حدود وټاکل او د پښتو د فوکلور او شفاهي ادبياتو ژانرونه يې هم لږ و ډېر پر موږ و پېژندل.

ما ته د پښتو شفاهي ادبياتو د تصنيف پر ستونزو د تحقيق لپاره وظيفه راکړل شوه. ما د دې تصنيف د رېړو په ارتباط کار پيل کړ، بېلابېلې مقالې مې وليکلې چې يوه مقاله يې په همدې مجموعه کې چاپ شوې ده، بله يې هم (د جاج په تله) نومې مجموعه کې خوندي ده، پېښور ته د بې ځايه کېدو پر مهال په دې ارتباط ما ځينې نور يادداښتونه هم وليکل چې زياتره د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې په خپرونو کې خپاره شول.

زما د دې ټولو هڅو نتيجه (د پښتو ولسي ادب) نومی کتاب شو چې په ۱۹۹۷م کال د څېړنوال حبيب الله رفيع په توجه د ساپي د څېړنو مرکز له خوا خپور شو.

زما په پوهه د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز د دغو اکاډميکو هڅو اثرات تر اوسه لا مشهود نه دي، په اکاډمي او نورو تحصيلي موسسو کې په درسي کتابو او عامو تحقيقي پروژو کې له دې جهته ستونزې موجودې دي. اما يو مهم کار چې په وروستيو اتلسو کالو کې شوی، زموږ د عالي تعليمي موسسو د ليسانس او ماسترۍ په نصاب کې د فوکلور مضمون اضافه شوی دی، موږ يې ستاينه کوو، خو ورسره مو دا هيله ده چې روش شناسي ته په پاملرنه د فوکلور درسي مواد تنظيم شي.

په پای کې دا خبره کوم چې د دې مجموعې چاپ له خپلو ستونزو سره سره يو ضرورت و او دا په دې دليل چې يو خو دا مجموعه سل نسخې گستتنر شوې وه چې حتی اوسني فوکلور شناسان يې له وجوده هم نه دي خبر. بله دا چې ځينې داسې مقالې په دې مجموعه کې شته چې له لارښوونو يې محققان او فوکلور ټولوونکي اوس هم ډېره استفاده کولای شي.

اوس چې زه خپلې خبرې ختموم، د ځينو کسانو د هڅو او مرستو یادونه د هغوی حق بولم، لکه سرمحقق دوکتور سيد محی الدين هاشمي او ښاغلی شهزاده توحیدمل چې د دواړو په توجه د دې مجموعې بيا چاپ پیشنهاد وشو، د اکاډمي د نشراتو پخواني رئيس څېړنوال دوکتور شکيب او اوسني رئيس ښاغلي آصف احمدزي چې د دې مجموعې بيا چاپ يې د اکاډمي په نشراتي برنامه کې شامل کړ او همدا راز د دې مجموعې په کمپوز او اصلاحاتو کې د ښاغلي شعيب شېرزي زيار د مننې دی. زه د دې مجموعې د مدون او مرتب په توګه له ټولو يادو ښاغليو مننه کوم.

په درناوي

سرمحقق زلمی هېوادمل

۱۴ دلو ۱۳۹۷ هـ. ش

# سیمپوزیم فوکلور شناسی

## یادداشتی از مدون مجموعه

کار گرد آوری فوکلور در کشور ما همراه با بحث بر برخی از پدیده های فوکلوری و مباحث عمومی فوکلور شناسی از دهۀ دوم سدۀ روان هجری خورشیدی آغاز گردیده است.

در همین مدت دست اندرکاران فرهنگ عامیانه شماری بر اساس ذوق فرهنگی، عدۀ دیگری بنابر ضرورتهای وظیفه یی و تعدادی هم بنابر اهداف گونه گون پژوهشی به گرد آوری، تحلیل و تفسیر و گاهی هم به نگارش شیوه های گرد آوری فوکلور و بررسی مسایل فوکلور شناسی دست بازیده اند.

اگر ما به وضاحت سخن بگوییم، شمار قابل یاد آوری دست اندرکاران فرهنگ عامیانه، تحصیل سیستماتیک و آگاهی لازم از فوکلور و دانش فوکلور شناسی و شیوه های گرد آوری فوکلور نداشتند و حتی اگر بگویم که به صورت خصوصی نیز درین رشته مطالعه نکرده ازین دانش بی بهره بودند گزاف نخواهد بود و شاید هم علت این بی اطلاعی عدم موجودیت امکانات پنداشته شود. اینها بر بنیاد عنعنه به گرد آوری و ترتیب فرهنگ عامیانه می پرداختند. اما در کنار این چنین اشخاص، شماری از دانشمندان فوکلور شناس ما از شیوه های روش شناختی این رشتۀ دانش اندوخته های داشتند و بر همین بنیاد کار شان نیز تا حدی با روش های گرد آوری و پژوهشهای فوکلور شناسی همسویی نشان میدهد.

اما به صورت عموم کاستیهای موجود در این زمینه یک سلسله دشواریهای را در شیوه های ثبت و تصنیف پدیده های فوکلوری و حد بندی فوکلور و اتنوگرافی و بسی مسایل و موضوعات دیگر فرهنگ عامیانه به وجود آورده است. این چنین مشکلات در بخش فرهنگ عامیانهٔ پشتونها و فوکلور پشتو نهایت چشم گیر مینمایند.

در نخستین روزهای سال پار (۱۳٦۴ هـ ش) ریاست مرکز زبانها و ادبیات اکادمی علوم افغانستان نگارنده را به حیث مدیر دیپارتمنت ادبیات شفاهی و فوکلور همان مرکز مقرر کرد. من نخستین کاری که کردم ترتیب پیشنهادی بود برای یک نشست مشترک بین شماری از دانشمندان فوکلور شناس با اعضای دیپارتمنت تا مشکلات موجود در ساحه های گونه گون فرهنگ عامیانهٔ پشتونها و ادبیات شفاهی آنها را مورد بحث قرار دهیم.

کاندید اکادمیسین پوهاند دوکتور الهام رئیس مرکز زبان ها و ادبیات نیز با این طرح موافقت فرمود و به من هدایت داد، تا تمام مشکلات را با راه های حل آن و کارهای که بایستی انجام پذیرد، طرح گونه تقدیم این مجلس کنم!

من چنین کردم و بتاریخ ۱۳ حمل سال ۱۳٦۵ هـ ش مجلس تحت ریاست استاد الهام در دفتر ریاست مرکز زبان و ادبیات دایر گردید و دانشمندان زیرین در ان اشتراک داشتند:

اکادمیسین دکتر جاوید

کاندید اکادمیسین استاد الهام

کاندید اکادمیسین روهی

کاندید اکادمیسین عطایی

سرمحقق معتمد شینواری

سرمحقق دوست محمد شینواری

څیړندوی عبدالله بختانی

معاون سرمحقق پتوال

محقق میر احمد گوربز

معاون محقق شهزاده زیارن

معاون محقق غوټی خاوری

معاون محقق مجاور احمد مومند

معاون محقق نصرالله ناصر و نگارنده

در مجلس روی مشکلات شیوه های گرد آوری فوکلور، حد بندی فوکلور و اتنوگرافی و سایر پدیده های فرهنگ عامیانه سخنها گفته شد، همچنین موضوع پلان پنج سالهٔ دیپارتمنت ادبیات شفاهی نیز طرح گردید، و در جریان بحث ها دو موضوع اساسی از همه بیشتر مورد توجه قرار گرفتند:

یکی ترتیب کتابشناسی فوکلور و فوکلور شناسی زبان پشتو و دیگری تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی. بر اساس طرح نگارنده مجمع دانشمندان تصویب داشتند که غرض طرح و به سر رسانی پلان پنج سالهٔ دیپارتمنت لازم می نماید که قبل از همه کتابشناسی فوکلور پشتو تهیه شود، تا معلوم گردد که تا حال کدام ژانرهای فوکلور و ادبیات شفاهی پشتو گردآوری شده اند و در کدام بخشها به کارهای اساسی دیگری نیاز است و هم گفته شد، تهیه کتابشناسی به گونهٔ پروژهٔ یکساله همین امسال به یکی از اعضای دیپارتمنت سپرده شود.

و هم در جریان سال۱۳٦۵هـ ش مرکز زبانها و ادبیات سیمپوزیم فوکلور شناسی تدویر نماید تا اعضای دیپارتمنت فوکلور و ادبیات شفاهی مرکز و دیگر دست اندر کاران مطالعات فوکلور و فوکلور شناسي از مطالعات آن در تفسیر و تحلیل پدیده های فوکلور و گرد آوري فوکلور سود جویند.

بنابر همین تصویب من موضوع را غرض تصویب در مجلس در دیپارتمنت مطرح داشتم، در دیپارتمنت نیز موضوعات طرح شده در مجلس مشترک، مورد تائید قرار گرفتند و گزارش آن را به هیئت اجرائیه. مرکز تهیه دیدم، هیئت اجرائیه با این طرح در مورد تدوین و ترتیب کتابشناسی فوکلور و تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی موافقت کرد. پس از آن من دو ماه سفری به خارج از کشور داشتم زمانی که برگشتم، استاد الهام به من گفت که موضوع تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی را به هیئت رئیسه اکادمی علوم پیشنهاد کن بنابر هدایت استاد الهام موضوع تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی را به مقامات اکادمی پیشنهاد داشتم، ولی پس از اندک مدتی بنابر عواملی نتوانستم وظایف مدیریت دیپارتمنت فوکلور و ادبیات شفاهی را به پیش برم، از این سمت مستعفی شدم و از اجراات در زمینۀ تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی بی خبر ماندم.

در ماه جدي سال ۱۳٦۵ هـ ش روزی استاد الهام به من گفت: تدویر سیمپوزیم فوکلور شناسی از سوی مقامات ذ یصلاح اکادمی پذیرفته شده است و مرکز باید تا اخیر همین سال این سیمپوزیم را تدویر نماید.

با احترام زیاد به استاد عرض داشتم، که من اکنون مدیر دیپارتمنت نیستم شما کارهای برگزاری سیمپوزیم را به مسوولان دیپارتمنت فوکلور و ادبیات شفاهی هدایت دهید.

استاد دوباره فرمودند: چون موضوع را خودت طرح و پیشنهاد نمودی، اکنون در انجام آن نیز با مرکز همکاری کن. من یکماه خود را از استاد پنهان مینمودم، بالاخره در هفته اول دلو سال ۱۳٦۵ هـ ش موضوع را نهایت جدی با من مطرح کرد و گفت تدویر این سیمپوزیم به دیپارتمنت فوکلور و ادبیات شفاهی تعلق ندارد، بلکه این سیمپوزیم به سطح مرکز دایر میشود و سر از امروز پلان کارهای بعدی آنرا ترتیب کن که از سوي مرکز به معرض اجرا قرار گیرد.

من بنابر هدایت استاد الهام پلان برگزاری این سیمپوزیم را ترتیب دادم و از دانشمندان مکتوبی تقاضا به عمل آمد که مقالات شانرا برای سیمپوزیم بنویسند. بعد از آن تحت اوامر ریاست مرکز در پی تکمیل کارهای بعدی برگزاری سیمپوزیم شدم، در مدت دو ماه، ما توانستیم که برای تدویر این سیمپوزیم آماده شویم.

پنج شش روز به تدویر سیمپوزیم باقی مانده بود که روزی در ریاست مرکز شنیدم که بعضیها میگویند: تدویر سیمپوزیم کار مایان است و آن و این چی حق دارند که این کار را میکنند من فوراً در چهار صفحه تمام جریان تدویر سیمپوزیم را به استاد الهام نبشتم و از ایشان خواستم که مرا از انجام این کار معاف بدارند، زیرا نود در صد کارها را انجام داده ام، ده در صد دیگر آن را آقایون مدعیان به فرجام رسانند.

استاد نه پذیرفت و من باز به کار ادامه دادم تا اینکه در باز پسین روز سال ۱۳٦۵ هـ ش این سیمپوزیم موفقانه دایر شد و کار برگزاری

آن به فرجام رسید و اینک مجموعۀ مقالات آن امروز به دسترس خواننده گان قرار دارد.

خواننده گان گرامی! من در تدویر سیمپوزیم به حیث منشی کار کردم، و اکثر کارهای آنرا به شمول گرد آوری مقالات و مراحل تایپ، تصحیح و گستتنر به دوش گرفتم، در مقابل کدام پاداش؟ من این کار را صرف به خاطر عشق به فرهنگ انجام دادم و جزیی ترین سود مالی از آن به من متصور نبود و حتی تدویر و چاپ این رساله را نیز افتخاری انجام نمودم، اما در مقابل از جانب سودان سخنانی را نیز شنیدم....

در فرجامین بخشهای این کوتاه گفته ها باید عرض نمود که: من خود با بعضی مسایل طرح شده در بعضی مقالات و بعضی نظریات و گفته های مقالات این مجموعه موافق نیستم، اما این که چرا آن نکات را در این جا بر نشمردم؟ علت آن این تواند بود که بعضی از دانشمندان ما با نقد مخاصمت میکنند و از نقد میترسند، حتی بعضی ها در مسخ حقایق دلایلی را میاورند که شایان شان یک عضو اکادمی نیست سهو و کاستیهای خود را باید پذیرفت هر گاه غلطی از ما سر زند به آن اعتراف باید کرد. این اعتراف از مسوولیت ما میکاهد و اگر برای درست جلوه دادن غلطی خود توجیهات مسخره بیاوریم، نه تنها در مقابل علم ایستاده گی میکنیم، بلکه به حیثیت علمی خود نیز لطمه وارد مینماییم.

با احترام

زلمی هېوادمل

مدون این مجموعه و منشی

سیمپوزیم فوکلور شناسی

کاندید اکاډمیسین الهام

# د سیمپوزیم اساسي وینا

## گرانو او درنو پوهانو!

خوشحاله یم چې نن تاسو پر علم او فرهنگ مینو پوهانو او استادانو ته د فوکلور پوهنې په دې سیمپوزیم کې د گډون کولو له امله ښه راغلاست وایم.

د فوکلور اصطلاح، په عامه معنی، د یوې ټولنې د وگړنیز ژوند د دود، دستور پر عمومی سیستم باندې اطلاق کیږي چې مادي او معنوي برخې لري او مختلفې برخې یې په بېلابېلو علمونو کې، په خاصو علمي میتودونو او له خاصو هدفونو سره سم څېړلی کیږي.

موږ، د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز د علمي ـ تحقیقی اهدافو او دندو سره سم، فوکلور په خاصه معنی د یوې ټولنې پر شفاهي ادبیاتو باندې اطلاقوو او وایو چې فوکلور د ژوندانه د واقعیتونو انعکاس دی، د هنري ژبې په واسطه چې په لومړي سر کې نالیکلی او ویونکی یې ناڅرگنده وي او که په فوکلوري آثارو کې زمان، مکان، تاریخي پېښو یا جغرافیایي سیمو ته څه پټې یا څرگندې اشارې نه وي، نو د ایجاد و زمان او مکان یې هم، د ایجادوونکو په څېر، څرگند نه وي.

نو کېدای شي چې د فوکلوري ادبیاتو ځانگړنې په لاندې توگه توضیح کړو:

۱ـ په شفاهي توګه ایجاد او ویل کیږي؛
۲ـ ایجادوونکی یې څرګند نه وي؛
۳ـ د ایجادېدو ځای او زمانه یې ناڅرګند وي؛
۴ـ له یوې خولې او سینې څخه بلې او له یوه نسل څخه بل ته انتقال او دوام مومي؛
۵ـ په زمان او مکان کې د ژبني شکل او محتوا له پلوه واریانتونه لري؛
٦ـ د یوې ګړنۍ ټولنې د ټولو وګړو ګډ میراث او شریک مال وي.

د هغې د ټولنیرو اړیکو، ټولنیزو تجربو، ټولنیز آرمان، ټولنیزو غمونو او ښادیو، ټولنیزو ستونزو او بریاوو او ټولنیز استتیک ذوق د خورا مهمو او عمده ټکو ښکارندوی وي.

د ادبیاتو اصلي او بنسټیزه منبع شفاهی ادبیات دي. په هره ټولنه کې لومړی شفاهي ادبیات او بیا کله چې لیکدود پیدا کړي، لیکلي ادبیات موجود وي. په هغو ټولنو کې چې زیاتره غړي یې ښسواده وي، شفاهي او لیکلي ادبیات همزمانه ایجادیږي او موجود وي.

زموږ په هیواد کې ډېر داسې معلوم کسان تېر شوي او اوس هم شته چې شفاهي ادبیات ایجادوي. په ځینو منظومو شفاهي آثارو کې د دوي نومونه یا تخلصونه هم شته.

خو آثار یې تر اوسه پورې نالیکلي پاتې دي او د خلکو زده دي او وایی یې. آیا دغه آثار فوکلوري دي که یه؟ دغه مسأله غور غواړي.

فوکلور په عامه معنی د یوې ټولنې د تکامل د پړاوونو د اجتماعي ـ اقتصادي فورموسیونونو د ټولنیزو روابطو د سیستم ښایسته زیات مظاهر څرګندولای شي. نو ځکه په خاصه معنی هم او د عمومي

فوکلور د یوې ورې، خو عمده برخې په څېر، شفاهي ادبیات تر زیاته حده پورې د دغو مظاهرو څرګندوی وي. له همدې امله ده چې د شفاهي ادبیاتو راټولول، د هغو تصنیفول، نشرول او علمي تحلیل د یوې ټولنې په پېژندګلوي کې ډېره مرسته کوي.

زموږ هیواد چې بېلابېل ورونه ملیتونه له خپلو ژبو او خپلو شفاهي ادبیاتو سره په کې یو ځای ژوند کوي، د فوکلور ارزښتناکه آثارو یوه ستره خزانه ده. د دې خزانې مرغلرې، لالونه او الماسونه موجود خو خواره واره دي. دا باید سره راټول، تنظیم، تصنیف، خپاره او تحلیل شي او زموږ د لرغوني فرهنګ د ښکلې ناوې په غاړه کې د یوې ښکلې او پرتمینې او رنګینې غاړکۍ په توګه وځلیږي. موږ په خپله او د نړۍ نور خلک ترې خبر شي. ویې ګوري، ویې ازمویي. موږ خپل ځان او خپل ورونه وپېژنو او د نړۍ خلک موږ وپېژني. ټوله په ګډه سره ټولنپوهنیزه او ښکلا پوهنیزه ګټه او خوند ترې واخلو. یو د بل په فوکلور باندې پوهېدل ښه تفاهم منځ ته راولي. ورونه نور هم سره نژدې کوي. د ملي روغې جوړې له پاره د لارې په هوارولو کې مرسته کولای شي. د یوې ټولنې د فوکلور تحلیل د انساني ټولنو د کړو وړو، دود دستور، ټولنیزو روابطو، حتی کله کله د طبقاتي ټکرونو مظاهر په ګوته کولای شي. نو دغه علم، د تاریخ، ټولنپوهنې د انسان پوهنې په څنګ کې، ارزښتناک موقف لري. فوکلوري څېړنې، د فوکلور علمي او میتودیک تحلیل په تېره بیا په قبیلوي روابطو کې د اقتصادي – فرهنګي ودې له پلان جوړوونکو سره مرسته کوي، تر څو خپل پلانونه په مناسبو ټولنیزو قراینو کې طرح او تطبیق کاندي.

موږ دغه سیمپوزیم لـه دې املـه دایـر کـړی دی چـې د فوکلـور د تیـوري، د خپـل هیـواد د ټولـو اوسـېدونکو خلکـو د فوکلـوري آثـارو د را ټولولو میتود او د هغو د چاپ، تحلیل او عملي ارزیـابۍ د لارو چـارو پـه باب ورږغېږو. خپل فوکلوري آثـار د همـدې تیـوري او میتـود پـه رڼـا کـې راغونډ او چاپ کړو، ترڅـو زمـوږ د فرهنـګ دغـه برخـه معـرفي، بډایـه او خوندي شي، د خلکو ترمنځ د لازیات تفاهم زمینه برابره کړي، خلک له خپلو بډایو تجربو، حکمت او ذوق سره د آشنا کېـدو پـه تـرڅ کـې خپـل شریک آرمانونه و پېژني او په ګډه سره د ترقـۍ او سـولې پـه لـور اوچـت ګامونه واخلی او په دغه علمـي چوکـاټ کـې د خپلـو وګـړو د اقتصـادي سـطحې د جګېـدو لـه پروسـې سره د اقتصـادي – اجتماعـی ودې د پروسې له پلان جوړوونکـو سره د ټـولنیزې زمینـې د یـوې تشـکیلوونکې برخې د څرګندولو له لارې مرسته وکړای شي.

زموږ په دې سیمپوزیم کې د ا. د. ج. د علومو اکـاډمي لـه فوکلـور څېړونکو سره د کابـل پوهنتـون، د ا. د. ج د کلتـور د دولتـي کمېټـې د خلکـو د فرهنـګ د څـانګې، د قبـایلو د عـالي جرګـې فوکلـور پوهـان او همدارنګه ځانګړي څېړونکي ګډون لري.

د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز تکل کړی دی چـې خپلـه د فوکلور پوهنې څانګه د علمي کدر او تجهیزاتو له پلـوه تقویـه کـړي. پـه دې مرکز کې د فوکلور پوهنې تیوریک او میتودیک دوامداره سیمینار د شوروي تاجکستان د علومو اکاډمي د رودکي په نامه د ژبـو او ادبیـاتو د انستیتوت د فوکلور پېژندنې د څانګې اسـتاد بهـرام شـیر محمـدوف پـه لارښوونه دایـر شـوی دی او دوې میاشـتې بـه دوام وکـړي. همدارنګـه د نورستاني، بلوڅي او پشه یي ژبو د فوکلور ټولونې پلان د ورونـو ملیتونـو

د ژبو او ادبیاتو د انستیتوت د پوهانو لـه خـوا د شـوروي اتحـاد د علومـو اکـاډمي د ختـيځ پېژنـدنې د انسـتیتوت د لیننگـراد د مرکـز پروفیسـور گریونبرگ پـه مرسـته طـرح شـوی او مقـدماتي کارونـه يـې روان دي. زه خوشحال یم چې دوی دواړه په دې سیمپوزیم کې موږ سره گډون لري. د پښتني سرحدي قبایلو د فوکلور د راټولولو او څېړلو د پـلان د طرحـې له پاره هم د علومو اکاډمي، کابل پوهنتون او د قبایلو د عالي جرگـې د متخصصو نماینده گانو په گډون د ژبو او ادبیاتو په مرکز کـې يـو علمـي کمیسیون جوړ شوی دی او په نوي کال کې به پـه خپلـو علمـي کـارونو پیل وکړي.

د ژبو او ادبیاتو د مرکز د دري ژبې او ادبیاتو په انستیتوت کې هم د فوکلور پوهنې څانگه جوړه شوې او دوه تنه پوهان ورته را جذب شوي دي. د دوی د تخصصي پوهې د سطحې د جگېدو له پـاره او پـه خـارج کې يې د تحصیل له پاره پلانونه طرح شوي دي.

غواړم تاسو پوهانو تـه زېـری درکـړم چـې د افغانسـتان د فوکلـور د راغونډولو د علمي څېړندود له پاره د يو علمـي طرزالعمـل د تـألیف کـار هم د يو کمیسیون له خوا، چې استاد بهرام شـیر محمـدوف هـم ورسره مرسته کوي، پیل شوی او ژر به تکمیل او چاپ شي. د دې طرز العمـل په مرسته هر باسواده سړی کولای شـي چـې د خپلـې ژبـې او د خپلـې سیمې فوکلور په میتودیکه توگه ثبت کړي او د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز تـه يې را ولیږي.

په پای کې، د ټولو گډون کوونکو پوهانو څخه يو ځل بیا مننه کوم او د دې سیمپوزیم بشپړ بریالیتوب غواړم.